Pashto

Welcome to Kindergarten™
CANADIAN EDUCATION WAREHOUSE

# دوړکتون(کودکستان) د ښه راغلاست کڅوړه

**د خپل ماشوم سره مرسته وکړی چی د ښوونځی لپاره تیار شی. دا تمرینونه یو ځای تر سره کړی. د هغو د کولو څخه خوند واخلی!**

## مقناطیسی ( اهن ربا داره ) حروف او اعداد

**د ماشومانو سره د حروفو او اعدادو په هکله خبری کول به ستاسو د ماشوم د حروفو او اعدادو پوهی په وده کولو کی مرسته وکړی.**



**دخپل ماشوم سره مرسته وکړی چی:**

- حروف او اعداد په جلا گروپونو کی تقسیم کړی. د مثال په ډول: د رنگ پر اساس، هغه حروف او اعداد چی   ممکن ستاسو ماشوم په وپوهیږی یا ونه پوهیږی.
- هغه وشمیری. په هرگروپ کی څو دانی دی؟ ټولـه څو دانی یو ځای دی.
- هغه حروف چی ستاسو د ماشوم په نوم کی دی هغه ولټوی. دا حروف پر یخچال کښیږدی.
- مقناطیسی حروف او اعداد د جدول سره تطبیق کړی.


## کتابونه



**و خپل ماشوم ته د کتاب لوستل به د هغه دغوږنیولو مهارت وده ورکولو او د هغه علاقمندی به د کتاب لوستلو او لیکلو کی  مرسته وکړی.**

- خپل ماشومان تشویق کړی چی ستاسو سره کښینی او د نکلو یا عکسونو کتاب ته وگوری. په لومړی سر کی دا کار د 5 دقیقو لپاره تر سره کړی. په هغه حال کی چی ستاسو ماشومان ددی کار څخه خوند اخلی د هغه وخت د 5 څخه تر 10 دقیقو پوری زیات کړی.
- د کتاب او عکسونو په هکله خبری وکړی.
- د خپلی سیمی د کتابخانی څخه لیدنه وکړی او دهغه په پروگرامونو کی برخه واخلی..

## رنگه ، کاغذ، سرېښ، غیچی



**هنری کارونه به ستاسو د ماشوم د گوتو په کنټرول او منسجمولو کی  چی د لیکلولپاره ضروری دی  مرسته وکړی.**

- خپل ماشومان تشویق کړی چی په پنډ رنگه باندی رسامی وکړی.
- خپل ماشوم ته مو اجازه ورکړی چی د زړو مجلو او اخبارونو څخه عکسونه غیچی کړی..
- د علاقی وړ عکسونه پر کاغــذ سرېښ کړی.
- د خپل ماشوم هنری کار وستایی او د ټولو د لیدلو لپاره یی یو ځای وځړوی.

## د لوبواوړه (خمیر)

**د لوبواوړه یا خمیر به ستاسو د ماشوم د گوتو په کنټرول اومنسجمولو کی چی د لیکلو لپاره ضروری دی، مرسته وکړی.** دلوبو د اوړو(خمیر) جوړولو لپاره تاسو دغه شیانو ته اړتیا لری:1 پیاله اوړه، ½ پیاله مالگه، 2 د چای کاچوغی د تاتارخمیر، 1 پیاله اوبه،د ډوډی 1 کاچوغه غوړی، او د پخلی رنگ



1. دا ټولـه شیان سره گډ کړی او هغه پر میانه حرارت باندی د 5 دقیقو لپاره پاخه کړی.
2. دا مواد ښه سره ولړی او هغه پر واکس کاغذ (روغنی کاغذ) باندی واچوی چی ساړه شی.
3. اوړه ښه مشت کړی او هغه د استفادی لپاره تیار دی.
4. هغه په پلاستیکی سرپوښ داره لوښی کی وساتی.

**خپل ماشوم ته وښایی چی په څه ډول د لوبو اوړه رول کړی او د هغه څخه توپ جوړکړی. د لوبو د اوړو څخه د اشکالو، حروفو او اعدادو په جوړلو کی کار واخلی.**

**په ویاړ سره د لگښت ذمه وار:**

EDUCO ENTREPÔT CANADA
CANADIAN EDUCATION WAREHOUSE